السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# خبر راکړه که چېرته فرضي لمونځونه وکړم، د رمضان میاشت روژه ونیسم، حلال حلال وګڼم، او حرام حرام وګڼم

له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې: يو سړي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه او ويې ويل: خبر راکړه که چېرته فرضي لمونځونه وکړم، د رمضان مياشت روژه ونيسم، حلال حلال وګڼم، او حرام حرام وګڼم او پردې نور هيڅ ورزيات نه کړم، آيا زه به جنت ته داخل شم؟ هغه وفرمايل: «هو» هغه - سړي - وويل: قسم په الله چې پدې هيڅ ورزيات نه کړم.

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي که چېرته يو څوک پنځه فرض لمونځونه اداء کړي او هيڅ نفل ورسره ونه کړي او د رمضان روژه ونيسي او ثوابي روژه ورسره ونه نيسي او د حلالو په روا والي ايمان ولري او تر سره يې کړي، او د حرامو په ناروا والي ايمان ولري او ډډه ترې وکړي، هغه به جنت ته داخل شي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65003

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee